**بسم الله الرحمن الرحيم**

**ولې استعمارګر کفار له حزب التحرير څخه وېره لري؟**

(ژباړه)

د خلافت کلنی دولسم کنفرانس چې د حزب التحرير ـ ولايه تونس له خوا ونيول شو، د سېکولرانو د کمپاين پر وړاندې يې د محکوميت او بې‌مخينې غندنې توپان راوپاروه. سېکولرانو پخپل دغه پارونکي کمپاين کې پر حزب باندې د بې اساسه تورونو بريد وکړ. همدارنګه سېکولرانو پخپل دغه کمپاين کې خلافت ته دعوت وغانده، تمدن او مدنيت ته يې اوښکې تويې کړې او تر دې کچې حماقت ته ورسېدل چې د حزب د انحلال غوښتنه يې وکړه. دغه سېکولران په اسلامي خاورو کې شته حاکمان او د قدرت څښتن د حزب د ځوانانو، پلويانو او ملاتړو پر وړاندې راپاروي. د ياد رسنيز کمپاين مشري رسنيو او د مدني ټولنې په اصطلاح يو شمېر سازمانونو پر غاړه درلوده، چې فکري ارتباط او له استعمارګرو سره يې غړيتوب پټ نه دی. په سيستماتيکه بڼه د ورځپاڼو تريبيونونه او اصلي سرليکونه يې هغوی ته د خدمت لپاره ځانګړي شول.

ولې د حزب پر وړاندې د خلکو راپارول؟ ايا سېکولران د عقيدې او فکر د ازادۍ دفاع کوونکي نه دي؟ ايا وړاندې يې نه دي ويلي چې هر فکر تر هغه چې پلويان يې تاوتريخوالی ونه کړي او تاوتريخوالي ته دعوت ونه کړي، د منلو وړ دی؟ دا په داسې حال کې ده چې هغوی شاهدان دي چې حزب التحرير تاوتريخوالی نه دی کړی او خلک تاوتريخوالي ته نه دعوت کوي؛ نو ولې حزب او خلافت ته د دعوت پر وړاندې خلک راپاروي؟ ولې پوليس د حزب د ځوانانو پر وړاندې اغوا کوي؟ ولې هڅه کوي چې د خلافت د کلني کنفرانس مخه ونيسي؟

هغوی وايي چې د خلافت مفکوره د تمدن، جمهوريت او ارزښتونو پر وړاندې ده او د دولت ملت پر وړاندې ګواښ ده. پر همدغه اساس، له خلافت څخه يې ډار په صراحت سره څرګند کړ.

ايا خلافت وحشتناک او ډارونکی دی؟ څوک له خلافت څخه ډارېږي؟

خلافت د اسلام حاکميت او د اسلامي ژوند بيا پيلېدل دي، څنګه چې د لومړي ځل لپاره د رسول الله صلی الله عليه وسلم له خوا تاسيس شوی و. خلافت د بشريت ژغورنکی دی او ټول علما يې پر وجوب اتفاق لري. نو دا چې خلافت په ژوند کې د اسلام د عملي کېدو لامل کېږي او د تونس خلک هم مسلمانان دي، نو ايا خلافت د مسلمانانو لپاره ډارونکی او وحشتناک دی؟ قطعا داسې نه ده؛ ځکه په تونس کې واکمن عمومي افکار د بماأنزلله حکم سخت ملاتړ کوي او که تونس ته ولاړ شئ او د بماأنزلله حکم په اړه پوښتنه وکړئ، هېڅ کله به مخالف پيدا نه کړئ؛ بلکې له داسې منونکو سره مخ کېږئ چې له الله سبحانه وتعالی څخه د داسې ورځې غوښتونکي دي

چې اسلام په خپل عادل شریعت سره هلته واکمن شي. هغه څه چې د دغه فکر ځواک تاسو ته ثابتوي او یوازې د ارمان په کچه نه دي، دا دي چې سېکولر سیاستوال او کمونیستان (په ځانګړي ډول د انقلاب په لومړیو کې) نور نه شي کولی چې په ښکاره د اسلام پر وړاندې دښمني وکړي او هر څوک چې له اسلام سره سیالي وکړي، نسکور او باور به یې له منځه ولاړ شي.

پر همدغه اساس، څوک له خلافت او اسلام څخه وېره لري؟ هغه سېکولر تیاره چې استعمارګرانو په تونس کې دننه جوړه کړه او د تونس پر سیاسي ژوند یې واکمنه کړه، وروسته تر دې چې تر ٦٠کلونو یې ډېره واکمني وکړه، په خلکو کې یې خپل باور له لاسه ورکړ. سېکولرېزم یې په ټولو بڼو سره تجربه کړ، لکه دیکتاتوري، ډیموکراسي، تدیني او غیر تدیني. په پایله کې یې خلکو ته له درد او ځورېدنې پرته بل څه ور نه کړل، نو هغوی سېکولرېزم ونه مانه، پر وړاندې یې انقلاب وکړ او نظام یې نسکور کړ. دغه انقلاب روان دی او هوډ لري چې واقعي بدلون ته ورسېږي چې د ښکېلاکګرو له سلطې څخه د بشپړې ازادۍ تر لاسه کېدو ضمانت کوي او داسې تغیر رامنځته کوي چې امت ته سیادت او رهبري ورکړي، تر څو امت بیرته خپل غوره مقام او ځای ته ورسېږي.

خو سېکولران دغه لیدلوری نه لري او د خپلو بادارانو د فکري او سیاسي متابعت او په هغوی پورې له تړاو پرته بل څه نه پېژني. همدارنګه دغه سېکولران د خپلو بادارانو له سپکاوي ډک متابعت کوي او د هغوی له خوا ورکړل شوي فرمانونه پلي کوي. دغه حالت په تونس او نورو اسلامي خاورو کې هغه څه دی چې نه یوازې یې چټل سیاسي پوړ، بلکې جوړونکي یې هم له پرېشانۍ او ډار سره مخ کړي، ځکه دغه سېکولر سیاسي پوړ د خلکو په بې‌لارې کولو کې پخپلو ټولو دسیسو او شخړو سره خپل قدرت له لاسه ورکړی او دوه خطرونه د استعمارګرانو وضعیت ګواښي:

- د روان انقلاب خطر چې په ټول تونس او حزبونو کې خپور شوی.

- د واقعي بدیل د شتون خطر یعني اسلام او خلافت، چې حزب التحریر هغه ته کار کوي او خلکو د حزب د ځوانانو صداقت او امانتداري پېژندلې او له هغوی څخه یې د اسلام په اړه سلیم فهم لیدلی دی. هغوی پوه شوي چې دغه ځوانان کولی شي د دولتونو لوبې او دسیسې درک او ښکاره کړي. مسلمانانو ته به تر هغه پورې خلافت راونه ګرځي، تر څو د قدرت د څښتنو او متنفذینو د مزدورانو له ملاتړه لاس وانه‌خلي او د خپل دین، امت او رهبرۍ (حزب التحریر) تر څنګ ونه درېږي. هغه حزب چې ښکاره دی او ټول یې دعوتګران او غړي پېژني. حزب التحریر د غرب لپاره په لاندې دلیلونو سره ډېر خطرناک او اهمیت ورته لري:

- د حزب التحریر راښکاره کېدنې له ژوند څخه د اسلام په له منځه وړلو کې د غرب او سېکولرانو له جنایته ډکې هڅې شنډې کړې. غرب وروسته تر دې چې فکر یې وکړ چې خلافت او اسلام یې له منځه وړی دی، نن ورځ د دې شاهد دی چې د خلافت غوښتنې مفکوره د نړۍ په کچه او په تونس کې، چې په اسلامي خاورو کې د انقلاب د پیل ځای دی، عامه او په ټولو ځایونو کې خپره شوې ده. هو، غرب دا څه وینې او په تونس، شام، اندونیزیا، پاکستان او افغانستان کې یې غږ اوري. مسلمانان او هغه کسان چې په هر ځای کې د پانګوالۍ په اور کې د سوځېدو په حال کې دي، غږ یې په ټولو ځایونو کې اوري.

- هغه خلافت چې حزب التحریر ورته دعوت کوي، د نبوت پر تګلاره خلافت دی، یعنې هغه دولت چې په داخل کې اسلام پلی کوي او په دعوت او جهاد سره هڅه کوي چې بشریت د پانګوالۍ له جرمونو او شر څخه وژغوري.

ـ د خلافت بیا راګرځېدنه یوازې مفکوره نه ده، بلکې خلافت نړیوال دولت دی چې غواړي د نړۍ رهبري بیا تر لاسه کړي او هغه څه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پیل کړل، دوام ورکړي. هو، خلافت به هغه تیاره پړاو له منځه یو سي چې په ۱٦۴۸م کال کې په وستفالیا سره پیل او د سایکس ـ پیکو په هوکړې سره ولاړ دی او د خلافت په مرسته د نړیوال قدرت په توګه د اسلام بیا راګرځېدنې غرب پرېشانه او اندېښمن کړی دی.

یو شمېر کسان کېدای شي ووایي چې تاسو د خلافت دولت د بیا راتګ په اړه د غرب په ډار او رعب کې مبالغه کوئ. په ځواب کې باید ووایو: د غرب څرګندونې او بیانیې د دغه ډار ښکارندویي کوي او هغوی د نړیوال نظم له بدلون او په ویسټفالیا او وروسته په سایکس – پیکو کې او دغو ته ورته د نورو ناوړه تاسیس شویو بنسټونو له منځه وړلو څخه ډارېږي.

«هنري کیسنجر» د وستفالیا د پړاو پای ته رسېدل حس کړي او په کنفرانسونو او مقالو کې یې د ژر تر ژره له منځه تلو خبر ورکوي. «زینوباران» په حقیقت کې په ۲۰۰۴م کال کې د حزب التحریر په اړه خبرداری ورکړی او ویلي یې دي چې د حزب خطر یې په بدن کې پټ دی، ځکه الهام ښښونکې «ایډیولوژي» یې رامنځته کړې، (اسلام) د پانګوالۍ حقیقي بدیل چې کېدای شي خلک د کمونیزم تر نسکورېدو او د سېکولریزم پر وړاندې یې په مبارزه کې تر ماتې وروسته ورته مخه کړي. پر دې سربېره، د سترو دولتونو د تصمیم نیونې دفترونه د حزب التحریر، خلافت او د خلافت دولت د تاسیس کېدو له بریا څخه د مخنیوي څرنګوالي په اړه له راپورونو څخه ډک دي.

پر همدغه اساس، په تونس او نورو اسلامی خاورو کې له حزب التحریر څخه ډار واقعي دی او دغه وېره په پیروانو او مزدورانو کې خپره شوې، ځکه هغوی منحط دي، بصیرت او لیدلوری یې له لاسه ورکړي او له مزدورانو پرته بل

څه نه دي. یوازې په همغه څه پوهېږي چې فرمان یې ورکول کېږي. بلخوا، له حزب څخه ډار په سپینه ماڼۍ او د استعمارګرانو د ستراتیژیکو مطالعاتو په دفترونو کې هم، چې د حزب پرمختګ او نوښت ویني، خپور شوی. له همدې امله، هغوی د دې لپاره چې د حزب او دعوت مخه یې ونیسي، هغه کسان چې پر حزب سخت بریدونه او نیوکې کوي، د هغوی ملاتړ کوي. دوی غواړي چې خپل نظام ته دوام ورکړي او د امت معنوي ارزښتونه له مخې لېرې کړي. همدارنګه دوی هوډ لري چې د حزب اراده په سپکاوي سره ماته کړي او د امت مخلص او ژمن رهبر (حزب التحریر) تورن کړي او خلک یې په اړه په فتنه کې راګیر کړي. بې خبره له دې چې خلافت یوازې حزبي او د حزب التحریر کار نه دی، بلکې د الله سبحانه وتعالی امر او د بنده‌ګانو لپاره یې غوښتنه ده. الله سبحانه وتعالی چې وغواړي، دغه ژمنه پر ځای کوي او وعده یې هم رښتیا او پر ځای ده. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ ءَامَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْناً يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئاً وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾** [نور: 55]

**ژباړه:** *الله سبحانه وتعالی له تاسو څخه هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی او غوره کارونه یې ترسره کړي، وعده ورکوي چې قطعاً به هغوی په ځمکه کې واکمنان کړي، څنګه یې چې مخکنیو ته په ځمکه کې خلافت ورکړ او هغه دین یې چې هغوی ته خوښ کړی، هغه به پرځای او ربښې به یې نورې هم وغځېږي. ډار یې په امنیت بدلوي، په داسې بڼه چې یوازې به زما عبادت کوي او له ما سره به کوم څه نه شریکوي. کوم کسان چې تر دې وروسته کافران شي، هغوی فاسقان (د اسلام او ایمان له دایرې وتلي) دي.*

**الرایه جریده: ۴۳۴ګڼه**

**لیکوال: استاد محمد الناصر شویخه**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**